فضل الله رشتین
۲۰۱۰/۸/۲۶

# د خپلواکۍ د ټینګلو د پاره د ملي وحدت ضرورت

ترڅو چي د خلکو ترمنځ ملي وحت تامین شوی نه وي تر هغه پورې خپلواکي په خطر کښي وي، خپلواکي هغه وخت له خطر څخه په امان کښي پاتی کیدای شي چي ملي وحدت تأمین شي. ملي وحدت هغه وخت تامین کیدای شي چي خلك د پوهي او تعلیم له فیض څخه برخوردار وي. کله چي ولس د پوهي او تعلیم له فیض څخه برخوردار وي نو هغه وخت بیاخلك د ملي وحدت په قدر پوهیږي او کله چي ولس د ملي وحدت په قدر پوه شي نو بیا د خپلواکۍ په لذت پوهیږي.
خپلواکي یو ستر دولت دی :

افغان تـل مست په میـنـه محبـت د آزادۍ ـــ له هـر څه نه ورته غوره دی دولت د آزادۍ
د ژوند په لوړو خوړو چي برې مومي ځي وړاندي ـــ همـدایــي ګـنـه نـبـــه ، بـــرکـت د آزادۍ

خدای پاك په قرآن پاك کښي فرمائي :
و اعتصموا بحبل الله جمیعا و لا تفرقوا ( صدق الله العظیم )
ټول سره یو ځای د الله تعالی رسۍ ونیسئ او مه سره مختلف کیږئ .
ددی معنی داده چي ټول سره یو شئ او د پاك قرآن په احکامو باندي عمل وکړئ.
که دا کار وکړئ نو ستاسي تر منځ به اتحاد او وحدت پیدا شي.
د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وینا ده چي : .
هیڅوك به له تاسي څخه جنت ته داخل نه شي تر څو چي د کامل ایمان خاوند نه شي او تاسي دکامل ایمان خاوندان کیدای نه شئ ، تر څو چي خپل منځ کښي مینه ، ورورې او ملي وحدت ټینګ نه کړئ .
د حضرت محمد صلی اله علیه وسلم بله غوره وینا ده چي :
هغه څوك له موږ څخه نه دی چي خلك منحرف او افراطي قومیت ته رابولي ، هغه څوك له موږ څخه نه دی چي په دغه منظور جګړه کوي ، هغه څوك له موږ څخه نه دی چي له همدې مفکورې سره مړ شي.

ښه روزنه او تربیه د نیکمرغۍ او بریالیتوب پړاو ته د رسیدو پیل دی .
د پوهني او ښې تربیې له لارې خلك کولای شي چي خپل هیواد او ټولني ته ګټور او ارزښتناك خدمتونه سرته ورسوي.
د جهل او نا پوهۍ څخه بل لوی مصیبت په دنیا کښي نشته ، یوازې پوهنه او تربیه ده چي په مرسته یې په ټولو ستونزو بریالي کیدای شو ، هر څوك کولای شي چي خپل قوت او غښتلتوب په پوهنه او تربیه کښي ولټوي.دا غښتلتوب او قوت د ټوپك له زور او قوت څخه زیادموثر دی.
هغه ټولنه نیکمرغه او سعادت منده ده چي کړه وړه یې د پوهني ، علم ، تعلیم او تربیې په بنسټ ولا ړ وي ، د خپلو پوهانو او عالمانو درناوې وکړي ، ځکه چي هر یو پوه او عالم د ګرانښت او درناوي مستحق دی.
پوهنه او تربیه دواړه د ملي وحدت د پاره ضرور دي. که پوهنه او تربیه نوي نو د قومونو ترمنځ ملي وحدت راتلای نه شي.
پوهنه ، تعلیم او تربیه انسان ته د پرمختك جرئت او قوت ورکوي .
په دې مورد کښي دا څو پښتو متلونه وړاندي کیږي:
روزنه او پوهنه تر سرو زرو زیات ارزښت لري.
کوم کار چي توره یې نه شي کولای ، هغه د قلم په ذریعه کیدای شي .
قلم د افکارو ترجمان دی.
اول زده کړه بیا کوڅده کړه.
د نالوستو یعنی بې سواده خلکو مینه د خیالونو سره زیاته وي ، د یوه ملنګ خیالي کیسه دوي د یو علمي سمینار یا کنفرانس څه زیات تر تاثیر لاندې راولي.
هغه خوند چي د سالمي تربیې څخه تر لاسه کیږي هغه تر ټولو خوندونو سوچه او خوندور دی.
هیڅ یو ملت نه شي کولای چي د پوهي او سالمي تربیې څخه پرته خپله خپلواکي او خپل ملي وحدت وساتي .
په کوم هیواد کښي چي د ملي وحدت او وطن پرستی تعصب کمزوری وي هغه وطن له تاریخ څخه ورك کیږي او له منځه ځي موږ په یوویشتمه پیړۍ کښي ژوند کوو خو متاسفانه موږافغانان د پرمختك او ترقی په دې پیړۍ کښي له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

ډیرو مشکلاتو سره مخامخ یو. مونږ له اجتماعي ژوند څخه ناخبره یو خوا بل خوا خواره واره، تس نس پراته یو، د ملي وحدت تنابونه مو سست او شلیدلي دي.
د خپلواکی او عزت ژوند پرته له ملي وحدت څخه ممکن نه دی . کوم ملت چې په اساسي ډول جوړ شوی نه وي او تعمیري حالت یې ویجاړ وي هغه ملت په هیڅ شان د زماني د طوفانونو مقابله کولای نه شي بلکې په لږه چپه او لږ طوفان له منځه ځي مګر کوم ملت چې په پاخه صورت جوړ شوی وي او د موجودیت تاداوونه یې کلك او محکم وي هغه ملت د هر راز سیلابونو او طوفانونو مقابله کولای شي او هیڅکله یې ځوك ې یې محو کولای نه شي .
دوهم جهاني جنګ په دنیا او خاص ډول مشرق کښې یو لوی بدلون راوست ، هند ، برما ، اندونیزیا ، چین او داسې نور هیوادونه آزاد شول او ډیر ژر په خپلو پښو ودریدل . مګر له بده مرغه افغانستان له دغه بدلون څخه ګټه ونه خستله دا ځکه چې زمونږ ملت لکه د نورو شرقي هیوادونو د ملتونو له پخوا څخه جوړشوی نه ؤ. که افغان ملت لکه د نورو ملتونو ودان اوجوړشوی وي، پوهه او تعلیم یې حاصل کړی وي او له ښه تنظیم څخه برخوردار وې نو نن به یې دا حالت نه ؤ.

اوس د افغانانو حالت ډیر خراب دی .
( د بې سوادئ کچه ) توضیح
هر افغان ته ښائي او دا یې ملي او ایماني وظیفه ده چې د خپل ولس د اساسي ودانۍ او لوړتیا د پاره کار وکړي او په هر ډول چې کیږي خپل ملي وحدت ثابت او څرګند کړي .
د یو ملت د تعمیر لومړئ تیږ ه تعلیم او تربیه ده. او دوهم شی اقتصادي حالت ښه کول او جکول دي که تر اوسه پورې دی دواړو ته کار نه دی شوی او چا سمه توجه نه ده کړې نو پس له دې باید ورته یو اساسي فکر وشي او ددوي علمي او حیاتي معیار پورته بوتلای شي.
افغانان له هر څه نه زیات ښوونځیو او پوهنتونونو ته ضرورت لري، دوي دعلم حاصلولو ته ضرورت لري، دوي داسې تربیتي پروګرامونو ته ضرورت لري چې دملي وحدت د تامین د پاره ترینه کار واخستل شي. که چیرې په افغانانو کښې یو قوي علمي او اقتصادي حرکت پیدا شي نو هغه وخت امکان لري چې د ملي وحدت تعمیر آباد او په پښو ودریږي.
علامه سید جمال الدین افغان د شرق په نوي تاریخ کښې د ملي او اسلامي وحدت لومړنی علمبردار ګڼل شوی دی.
کله چې په نونسمه پیړی کښې شرقي هیوادونه د جهل ، ناپوهی ، بې اتفاقي او استبداد په اور کښې سوزیدل ، نو په دغه وخت کښې علم ته ضرورت ؤ ، اتحاد او اتفاق ته ضرورت ؤ ، تعلیم او تربیې ته ضرورت ؤ ، ملي او اسلامي وحدت ته ضرورت ؤ ، په دی معنی چې په دغه وخت کښې داسې یو قوت ته ضرورت ؤ چې خلك د آزادی ، حریت ، ملي وحدت په مفهوم پوه کړي تر څو له دغه ستر نعمت څخه په استفاده د ژوند په لذت او خوندپوه شي.
سید جمال الدین په ټوله اسلامي نړی وګرځید، ده ولیدل چې دخلکو ترمنځ ملي وحدت وجود نلري او خلك د جهل او ناپوهئ په اور کښې سوزي. هغه تعلیمي او تربیتي پرګرامونه جوړکړل او خلك یې اتحاد، اتفاق اوملي وحدت ته وبلل.
د سید جمال الدین د فکر رڼا اروپا ته هم ورسیده د اروپا فیلسوفان لکه جان جاك او مونت سکو او نورو ددغه ستر مفکر له افکارو څخه استفادې وکړې او ددیر واروپائیانو عقل یې دجمود له قید څخه بهر او هغوي یې دملي وحدت او خپلواکی په مفهوم پوه کړل.
له سیاسي پلوه هم خلکو ته داموقع په لاس ورغله چې دعزت او کرامت او آزادی له ژوند څخه خوند او لذت واخلي. د نړی په بیلابیلو هیوادو کښې دملي او اسلامي حرکتونو تخم وشیندل شو. په غربي نړی کښې هم سیاسي نهضتونه په پښو ودریدل.
د علامه سید جمال الدین په نظر له استعمار څخه د خلاصون د پاره بهترینه او معقوله لار داده چې مسلمانان ځانونه د علم او پوهې په ګاڼه سینګار کړي او په خپل موقف کښې تغیر راولي .
نن افغانستان یو بل سید جمال الدین ته ضرورت لري. د سید جمال الدین افغاني نه پس دهغه د پایې فیلسوف، عالم او مفکرپیدا شوی ندی او فکر نکوم چې پیدا به هم شي . ۹۱ کاله د مخه چې مونږ افغانانو خپله آزادي تر لاسه کړه نو مونږ په سیاسي، علمي، نظامي او مادي لحاظ ډیر پیاوړي وو، مګرنن۹۱ کاله پس مونږ په پورتنیو عرصو کښې ډیر کمزوري او په هیڅ حساب یو. مونږ افغانان ددې پرځای چې مخکښې لاړ شو برعکس ډیر پر شا تللي یو، مونږ اوس د ناپوهئ او بی علمئ په کنده کښې پراته وو، زمونږ د وحدت او یووالي مزي سست شوي او شلیدلي وي.

زمونږ حالت ډیر خراب او د تشویش وړ دی ، زمونږ هیواد لکه د غوښې یوه ټوټه ګرځیدلې ده چې لیوان ورنه راچاپیر دي او په بې رحمه ډول وربانډې په خپلو تیزو غاښونو چکونه لکوي. دا ولې ؟
هوا دا ځکه چې په مونږ کښې بې اتفاقي زیاته شوې ده ، له مونږ سره د وطن او خلکو غم نشته ، مونږ په مال او دولت پسې شوی یو ، مونږ د ځان د ګټې د پاره ملي منافع تر پښو لاندې کوو . دا چې مونږ کمزوري شوي یو او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هر څوك رابانديٍ مسخري كوي  ددې دليل دادی چې مونږ  ماده پرستان شوي يو ، په مونږ باندي نفس غلبه كړې ده ، شيطان زمونږ په اوږو ناست دی او مونږ له يو بل سره په جنگ اچوي ، دا  شيطان دی چې   يو قوم له بل قوم سره په جنگ اچوي ، په مونږ كښي د ځانځانئ جنون پيدا شوی دی ، په وجود باندي مو د ليونتوب داني ختلی دي .
تر څو چي زمونږ  په زړونو كښي د ټينگ ايمان ، ترحم ، صداقت  ، شكسته نفسئ  هوا ونه چليږي ، تر څو چي زمونږ  له  خولو څخه  د بي عدالتي او نا انصافئ په مقابل كښي د حق آواز نه وي پورته شوی ، تر څو چي مونږ د خپلي اسلامي عقيدې په توره د دشمن سرونه پرې كړي نه وي ، تر څو چي د علم ، پوهي ، تعليم او تربيې په  رڼا مو د جهل او ناپوهئ تيري رڼا كړي نه وي ،  نو تر  هغه وخته پوري به همداسي له ستونزو سره مخامخ يو .

د ملي وحدت  د پاره پيشنهادونه او پروگرامونه   :

١-   دملي وحدت د پاره د يوی ستراتيژئ جوړول : دولت بايد د ملي وحدت د تامين د پاره يوه ځانگړې ستراتيژي جوړه  او ددغي ستراتيژئ  د عملي كولو د پاره مناسب اقدامات وكړي . دولت بايد د ملي وحدت د تامين د پاره عملي لارې چارې ولټوي او په هيواد كښي ټول ميشت  قومونه  دی ته تشويق كړي چي  له بي اتفاقئ او ځانځانئ څخه لاس واخلي او د هيواد دمنافعو د پاره سره د وحدت لاسونه وركړي .

٢- د ملي وحدت د پاره د  يو ائتلافي حكومت جو ړول :
د ملي وحدت  د باره د يو ائتلافي حكومت هغه حكومت دی چي په هغه كښي بيلابيل سياسي  حزبونه برخه واخلي او له يو بل سره د حكومت داری د چارو د پرمخ بوتللو  د پاره صميمانه همكاري وكړي .  ائتلافي حكومت د سياسي ستونزو په وخت كښي جوړيږي . څرنگه چي زمونږ هيواد په اوس وخت كښي له سياسي ستونزو سره مخامخ دی نو د يو ائتلافي حكومت  جوړيدو ته سخت ضرورت لري . د يو ائتلافي حكومت جوړيدل چي پكښي ټولي سياسي فعالي او موثري ډلي برخه ولري ، د ملي وحدت د پاره مهم گڼل كيږي.

٣-  در اډيو ، تلفزيون او رسنيو   له لارې  كمپاين كول.
د ملي وحدت د پاره   د   رسنيو    ، راډيو او تلفزيون  له لارې  كمپاين ډير موثر ثابتيږي . په نړی كښي  اعلام ځلورم قوت گڼئيدلی دی ، هغه څه چي د اعلام له لارې لاس ته راتلی شي هغه په بله وسيله لاس ته راتلای نه شي .
دا ددولت دنده ده چي  په دې برخه كښي  هلی ځلي  وكړي ، رسنئ وهڅوي او تشويق يې كړي چي د ملي وحدت د پاره  په رسنيو  كښي د ملي وحدت په ارتباط موضوعات نشر كړي  او  همداشان يې د راډيو تلفزيون له لارې خپاره كړي.

٤-  د ملي وحدت د تامين د پاره  له ځان سره هوډ كول هر  افغان  ته ښائي چي    دخپل وس او توان سره سم د ملي وحدت د پاره هڅي وكړي . كه پښتون دی  ، كه تاجك دی ،كه  هزاردی  ،كه  ازبك دی او كه بل قوم دی ، دوي ټول بايد دا هوډ وكړي چي له قومي تعصباتو څخه لاس واخلي او له ځان سره  دا هوډ وكړي چي له قومي تعصباتو څخه څه لاس ته نه ورځي  . قومي تعصبات د هيواد د بربادۍ او ټوټه ټوټه كيدو سبب گرځي او له قومي تعصباتو څخه ډډه كول د ملي وحدت سبب گرځي او دا هغه څه دي چي د هيواد ملي گټي تقاضا كوي .

٥-  ملي منافع د پرديو هيواد  له منافعو څخه نه قربانول.
هر  افغان ته ښايي چي خپل ملي مسؤليت په نظر كښي ونيسي ، ملي مسؤليت دادی چي هيڅكله ملي منافع د پرديو له مافعو څخه قربان نه كړي . كه ملي منافع د پريو له منافعو څخه قربان شي نو بيا ملي وحدت  منځ ته راتلای نه شي .دا ډير ستر خيانت دی چي څوك ملي منافع د پرديو د  منافعو په خاطر قربانوي.

٦- په ښوئځيو ، پوهنتونونو او تعليمي موسسو كښي د ملي وحدت د پاره تعليمي   زدكړې وركول.
د  ښوئځيو  او  تعليمي موسسو په تعليمي نصاب كښي بايد د ملي وحدت   موضوع شامله شي .په درسي كتابونو كښي بايد پدې اړه مضامين او اشعارشامل شي ترڅو زده كونكي يې ولولي اوهغه په خپلوماغزو كښي وساتي اوعمل پرې وكړي.

٧ -  دهغو تنظيمونو  ختمول چي د باندنيو هيوادو د گټو په خاطر ملي وحدت ته تاوان رسوي .
هغه تنظيمونه او گروپونه چي   د نورو  هيواد د سياسي ، فرهنگي، اقتصادي  او  نظامي  گټو  د پاره كار كوي بايد له منځه لاړې شي او فعاليتونه يې متوقف شي . ځكه چي  ددغو تنظيمونو او گروپونو دا كار د ملي منافعو سره په تضاد كښي دی او  ملي  وحدت  ته سخته  ضربه  وركوي  .  دا ددولت وظيفه ده چي په قاطعيت او جديت سره   له دې ستر مشكل سره برخورد وكړي كه داسي ونكړي نو ملي وحدت ټينكيدای نه شي .

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو  همكارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزي بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راالېرلو مخكي په خير و لولئ

۸- د هیواد د اولادونو د تعلیم او تربیي موضوع ته خاصه توجه کول.
تعلیم د ملي وحدت د پاره یو اساسي رکن گڼل کیږي . د ملي وحدت د تأمین د پاره د تعلیم موضوع ډېره مهمه او اساسي ده. هر څومره چي زموږ د هیواد بچیان تعلیم حاصلوي هغومره ورسره له وطن سره مینه زیاتیږي او کله چي مینه زیاته شي نو د ملي وحدت احساس ورسره پیدا کیږي.

۹- د هیواد په فرهنګ د پردي فرهنګ د تیري مخه نیول .
دا کار دهیواد دفرهنګ په پیاوړي کیدو سره امکان لري چي عملي شي، هرڅومره چي زموږ ملي فرهنګ تقویه کیږي، هغومره دپردي فرهنګ له یرغل څخه په امان کښي پاتي کیږو، هرڅومره چي له پردي فرهنګ څخه په امان کښي پاتي کیږو په هغه اندازه مو ملي وحدت ته ګټه رسیږي. دملي فرهنك تقویه کیدل او قوي کیدل دملي وحدت تقویه کیدل دي.

۱۰- د خلکو اقتصادي حالت ښه کول :
کله چي د خلکو اقتصاد ښه شي، خلکو ته کار او روزکار میسر شي نو له دې سره ملي وحدت ته فائده رسیږي . که خلك په کیده ماړه وي نو له یو بل سره یې مینه هم زیاتیږي . که خلکو ته کار او روزکار میسر شي نو بیا دی ته نه مجبوریږي چي د کاراو غریبئ د باره نورو هیوادو ته لاړ شي . غریبي او فقر د خلکو په روحیاتو بد تاثیر کوي ، دا بد تاثیر د مأیوسئ سبب ګرځي ، د خلکو امید له حکومت څخه شلیږي او په نتیجه کښي د خلکو او حکومت تر منځ فاصله پیدا کیږي ، کله چي دا فاصله پیدا شي نو بیا د حکومت د کمزورئ سبب ګرځي . یو حکومت هغه وخت قوي کیدای شي او په خپلو پښو دریدای شي چي د ولس معیشتي حالت یې د ډاډ او اطمینان وړ وي.

۱۱- د دولت له خوا له ملي وحدت څخه له سرغړونکو سره قانوني چلند کول.هغه څوك چي د ملي وحدت په لار کښي خنډونه اچوي له هغوي سره باید د قانون له مخی چلند وشي . که دا کار ونه شي نو ملي وحدت راتلای نه شي .

۱۲- د هغو زور مندانو او ټوپك سالارانو مخه نیول چي د ملي وحدت په لار کښي ستونزې پیدا کوي.
ځیني زورمندان او ټوپك سالاران شته چي د خپلي بقا په خاطر د ملي وحدت له نظریي سره مخالف دي ، ددغو خلکو مخه باید ونیول شي ، که دا کار ونه شي نو حالات به د بهبود په لور حرکت ونه کړي .

۱۳- د قوم پرستئ د رواج ختمول .
قوم پرستئ په هیواد کښي رواج موندلی دی ، دا یو بد رواج دی ، ددی رواج ختمول د دولت کار دی . دا رواج باید او حتما ختم شي ، که دا رواج ختم نه شي نو ملي وحدت راتلی نه شي . که دا رواج ختم نه شي نو حالات به نور هم خراب شي ، بې اتفاقي به نوره هم زیاته شي او له دې سره به وطن نور هم ټوټي ټوټي او زرې زرې شي .

په درناوي
الحاج فضل الله رشتین

د هیواد د استقلال د ورځي په مناسبت یو څو اشعار ملي ترانه

د آزادی پیغام
بشر ته چي نسیم راوړو پیغام د آزادی
اوچت شول ملتونه په هلر ګام د آزادی
نړی او نړی وال که آزادی نه قربانیږي
افغان سر په تلي وړي تل په نام د آزادی

د آزادی بیرغ
اوچت دی وي توغـونه پـه جهـان د آزادی
بشر دي پاتـي نه شي په ارمـان د آزادی
ترڅوچي دا دنیا وي نو اوچت دي له هرچا وي
بیرغ په دی نـړی کي د افغان د آزادی
اوچت دي تـل نښان وي په جهـان د آزادی
بربـاد دی همیشه وي غـلیـمـــان د آزادی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د نیا ورته سر ښکته په تعظیم وي تر قیامته
کــوم قــام چې سر او مال کـانـــدي قرب

دا زمونـږ زیبا وطن
دا وطن مـو ځان دی
دا د میني کور زمونږ
نــه ورکـوو چا لـــره
نه دی د بـل چا وطـن
کور د خوشحال خان دی
دا وطن دی ځان زمونـــږ
وایـــي په خاپـــوړو کښي
دا مـــو د بابا وطــن
په مونږ باندی ډیر ګران دی
ځار یې له سیدنونو شـم
ځار یې له خوړونو شم
دا زمونږ آشنا وطن
زړکې مې پرې روښان دی

د ا زمونږ لیلی وطن
دا افغانستان دی
دا د پلرو ګور زمونږ
دا د سترګو تور زمونږ
دا دی د شیر شاه وطن
دا افغانستان دی
دا وطن ایمان زمونږ
داسې ماشومان زمونږ
دا مو د دادا وطن
دا افغانستان دی
ځار یې له ډاکونو شم
ځار یې له دې غرونو شم
درد له مو شفا وطن
دا افغانستان دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ